مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۴ / ۰۹

# د وربڅو اتڼ

وربڅې د کال هر موسم کې لړوډېر وي. په ژمي کې خو يې اسمان ته سمه برسټن اغوستې وي چې يخ يې ونه شي. په دې موسمو کې وربڅې ارامې ښکارې او ډېرې لالهنده نه وي!
د وربڅو اسماني نداف هم په دې موسومو کې ويده وي او د ډانډس غږ يې نه تر غوږو کيږي.
سپرلي چې يوازې ذيروح ته نه، بلکې بېروحه هستۍ ته هم نوی ژوند بخښي؛ د وربڅو نداف هم له درانه خوبه راپاڅوي. دا نداف پخپل ډانډس چې غږ يې د غوري بابا نوم لري، د وربڅو پاغوندې لکه مالوچ هرې خوا پاشي او دا پاغوندې د اسمان ورشو کې په داسې هنر سره تاويږي او نڅيږي، ته به وای وربڅې هم اتڼ کوي!
د ۲۰۲۳ کال د اپريل ۸ مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ